
# پرمختیا

اوونیزه

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت

۱۱٤ مه گڼه • پنجشنبه • د مرغومي ۱۹مه • ۱۳۹۸



۸

## په تخار کې د ۱٤۲ میلیونه افغانیو په ارزښت ۲۰۰ متره ټرانسپورتي پل جوړ شو



۱۲

### په دایکندي کې د ۱۱.۷ میلیونه افغانیو په ارزښت یو شمیر پرمختیایي پروژې بشپړې شوې



۱۱

### په تخار کې د ۱۰۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د جوې شیخ ۱۷۵ متره پل جوړ شو

# تیره اونۍ په ٦ ولایتونو کې دیوه ښوونځي کار بشپړ شو او د ۷ نورو د جوړولو کار پیل شو

۱۹/ مرغومي/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون پروګرام د اقرا پروژې تر سیوري لاندې د هرات په ادرسکن ولسوالۍ کې د یوه ښوونځي جوړولو کار بشپړ شو او ۳۰۰ زده کونکو ته د ښوونې او روزنې وړ چاپیریال رامنځ ته شو.

او په ٥ نورو ولایتونو کې د ۷ ښوونځیو جوړولو کار پیل شو دا ښوونځي د کابل په میربچه کوټ، د کندز په چهار دره، د کندهار په میوند او ژړۍ، د بادغیس په ابکمري، او د خوست په متون ولسوالیو کې جوړیږي، چې ۱۰، ۸، ٦ یا څلور ټولګي، تشنابونه او د څښاک د اوبو څاه ګانې به ولري. ددې پروژو په ترځ کې به زرګونه کاري ورځې رامنځ ته شي او په بشپړتیا سره به یې ٥۱۰۰ زده کونکو ته د ښوونې او روزنې وړ چاپیریال رامنځ ته شي.

باید ووایو چې تیره اونۍ د بلخ ولایت د چهار کنت ولسوالۍ د چهار محله یي کلي د ښوونځي د احاطې ۱۸٦ متره دیوال هم بشپړ شو چې په دې ښوونځي کې ۳٥۰ زده کونکي زده کړې کوي.











# په غور ولایت کې د ټرانسپورټي پله د جوړولو پروژه بشپړه شوه

۱٤ / مرغومي / ۱۳۹۸

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د سیمه ییز پروګرام له لوري په غور ولایت کې د ټرانسپورټي پله د پروژې کار چې څه باندې ٦ میلیونه افغانۍ لګښت یې درلود بشپړ شو. د دغې پروژې په لړ کې چې د مالیې وزارت له لوري تمویل شوې د یاد ولایت د لعل او سرجنګل ولسوالۍ په عبدل بارک کلي کې د ۱۵ مترو په اوږدوالي ټرانسپورټي پل په پاخه ډول جوړ شو. د یادې پروژې د تطبیق د بهیر پر مهال ٤٤٤٦ کاري ورځې رامنځته شوي او د سیمې ۵۰۰۰ کسه ترې ګټه پورته کوي.



# په سرپل کې د ۱۲.٤٤ کیلو متره سړک جوړولو کار روان دی

۱٤/ مرغومي/ ۱۳۹۸

د سرپل ولایت د کلیو بیا رغونې او پراختیا ریاست په همغږۍ او تخنیکي همکارۍ د UNOPS موسسې له خوا د اق ګنبد له کلي د ګوسفندي ولسوالۍ تر کاریزها سیمې پورې د ۱۲.٤٤ کیلومتره سړک د جوړولو، کریږ اچولو او د اوبو ایستلو د جوړښتونو جوړولو کارروان دي. ددې پروژې په بشپړتیا سره به د کاریزها ۱۲ کلي د ګوسفندي ولسوالۍ له مرکز سره وتړل شي او د ۵ زره وګړو ترانسپورټي ستونزې به هوارې شي.



# د سیمه ییز پروګرام رییس د پروګرامونو نوي معین شهزار څدراڼ ته د یاد پروګرام د پلانونو پر اړه معلومات ورکړل

۱٤/ مرغومي/ ۱۳۹۸

د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا وزارت د سیمه ییز پروګرام رییس بریالي هلالي د دغه وزارت د برنامو معیین شهزار څدراڼ ته د سیمه ییز پروګرام د فعالیتونو او راتلونکو پلانونو په اړه نن مالومات وړاندې کړل.

ښاغلي هلالي د مالوماتو د وړاندې کولو پر مهال ژمنه څرګنده کړه چې سیمه ییز پروګرام به کلیوالو ته د عامه ګټورو خدمتونو د رسولو په برخه کې د پخوا په شان هڅه او هاند جاري ساتي.

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د برنامو معیین شهزار څدراڼ د سیمه ییز پروګرام تر سره شوي فعالیتونه او راتلونکي پلانونه ګټور و ارزول او پدې برخه کې یې اړینې لارښوونې وکړلې.

د یادونې وړ ده چې سیمه ییز پروګرام د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې کلیوالو ته دګټورو خدمتونو د وړاندې کولو په درشل کې ۹٤ سلنه بودیجه لګولې او راتلونکي کال به هم د بودیجې د لا زیات لګښت کوښښ جاري ساتي.



# د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د برنامو نوي ټاکل شوي معین د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام څخه لیدنه وکړه

۱۳۹۸ / مرغومي/ ١٤

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د برنامو نوي ټاکل شوي معین ښاغلي شهزاد خدراڼ د وزارت د پروګرامونو څخه د لیدنو په لړ کې دا وار، د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام له مشرتابه او ټولو مرکزي کارمندانو سره ناسته ترسره کړه او د یاد پروګرام د فعالیتونو په څرنګوالي یې خبرې وکړې.

د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا اجرایوي رییس رحمت‌الله قریشي په دې ناسته کې ښاغلي خدراڼ ته د برنامو د معین په توګه د مبارکۍ تر څنګ د هېواد په ۳٤ ولایتونو کې د پروګرام په عمومي موخو، لاسته‌راوړنو او ننګونو خبرې وکړې.

د ناستې په پای کې، د برنامو معین ښاغلي خدراڼ د یاد پروګرام د لا ښه پلي کېدا په موخه یو لړ لازمې سپارښتنې او سلامشورې د پروګرام له مشرتابه سره شریکې کړې، چې د پروګرام د مشرتابه له لوري یې د ترسره کېدا ژمنه وشوه.

# په دایکنډي کې د ٤ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو یوه شبکه بشپړه شوه

۱۵/ مرغومي/ ۱۳۹۸

د دایکنډي د کلیو بیا رغونې او پراختیا ریاست په تخنیکي همکارۍ سره د یونیسیف اداري له خوا د یاد ولایت د میرامور ولسوالۍ په برمني حسن رضا برکر کلي کې د ٤ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو یوه شبکه بشپړه او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه. دا شبکه د ۳۰ متره مکعبه په ظرفیت د اوبو زیرمې، دوه د چینو جوړښتونه، یو واټر کلیکشن یو عادي فشار شکن ۲ اتومات فشار شکنه او ۸۰ نلکې لري. ددې پروژې په بشپړتیا سره ۹۱۰ سیمه ییزو وګړو د څښاک پاکو او صحي اوبو ته لاس رسی پیدا کړ.





# په نورستان ولایت کې د اوبو د زیرمتون پروژه بشپړه شوه

۱٤ / مرغومي / ۱۳۹۸

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د سیمه ییز پروګرام له لوري په نورستان ولایت کې د اوبو د زیرمتون د پروژې کار چې نږدې ٦۰۰ زره افغانۍ پرې لګښت راغلی بشپړ شو. د دغې پروژې په لړ کې چې د مالیې وزارت له لوري تمویل شوې د یاد ولایت په مرکز پورې اړوند کلي کوشت کې د اوبو زیرمتون په پاخه ډول جوړ شوی دی. د یادې پروژې د تطبیق د بهیر پر مهال ۳۳۲ کاري ورځې رامنځته شوي او د سیمې ٦۰۰ کسه ترې ګټه پورته کوي.



# د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت نوي مرستیال وزیر شهزار ځدراڼ د دوامداره انرژۍ پروګرام لیدنه وکړه

۱٤/مرغومي/۱۳۹۸

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت نوي ټاکل شوي مرستیال وزیر ښاغلي شهزار ځدران د وزارت د برنامو د لیدنې په لړ کې د افغانستان د کلیو پراختیا لپاره د دوامدراه انرژي پروګرام له مشرتابه ټیم او همکارانو سره ګډه ناسته ترسره کړه او د یاد پروګرام د کارونو پر څرنګوالي یې خبرې اترې وکړې. دغه ناسته کې د دوامداره انرژي پروګرام اجرائیوي رییس ښاغلي محمد اجمل شینواري ښاغلي ځدران ته د نوې دندې د مبارکۍ ورکولو ترڅنګ د دوامداره انرژۍ پروګرام د لاسته راوړنو، فعالیتونو او د راتلونکو پلانونو په هکله مفصل معلومات شریک کړل. د یادونې وړ ده چې د برنامو مرستیال وزیر ښاغلي ځدران د دوامداره انرژي پروګرام کارونه وستایل او د کارونو د لا ښه پرمختګ د سپارښتنې ترڅنګ یې د پروګرام د لا پیاوړتیا لپاره د ملاتړ ډاډ ورکړ. چې د دوامداره انرژي پروګرام د مشرتابه لخوا یې هرکلي او د ترسره کېدو ژمنه وشوه.



# په تخار کې د ۱٤۲ میلیونه افغانیو په ارزښت ۲۰۰ متره ټرانسپورټي پل جوړ شو

۱۵/ مرغومي/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي لار جوړولو ملي پروګرام د تخار ولایت د مرکز تالقانو د نهر چمن ۲۰۰ متره اوږد پل د ۱٤۲ میلیونه افغانیو په لګښت جوړ کړ او ګټې اخستنې ته وسپارل شو. د دې پروژې په ترځ کې ۰.٦۲ کیلو متره وصلونکي سړک او ٦ لوي او واړه پلچکونه هم جوړ شول. ددې پروژې په ترڅ ٤۰ زره کاري ورځ رامنځ ته شوې وې. د یادولو وړ ده چې یاد پل سره سربیره د کابل- بدخشان د ټرانسپورټ له سنبالښته چال او نمک اب ولسوالۍ او د نهرچمن ٤۰ کلي له تالقان ښار سره تړي، په مستقیم او نا مستقیم ډول ۱۵۰ زره کورنۍ له دې پله ګټه پورته کوي.



# د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د پروګرامونو معین په کلیوالي سیمو کې د اوبو رسولو او حفظ الصحې له رئیس او کاري ټیم سره ناسته وکړه

۱٦ مرغومي ۱۳۹۸

نن د مرغومي په ۱٦ مه نېټه په کلیوالي سیمو کې د اوبو رسولو او حفظ الصحې د پروګرام اجرائیوي رئیس د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د پروګرامونو له معین سره ناسته ترسره کړه. په دغه لیدنه کې د اوبو رسولو د پروګرام رئیس انجینیر غلام قادر د پروګرامونو معین ښاغلي شهزاد ځدراڼ ته د نوې دندې د مبارکۍ ترڅنګ، نوموړي ته د اوبو رسولو د پروګرام د فعالیتونو، لاسته راوړنو او راتلونکو پلانونو په باب مفصل معلومات وړاندې کړل. ښاغلي شهزاد ځدراڼ هم په کلیوالي سیمو کې د اوبو رسولو او حفظ الصحې د پروګرام د فعالیتونو د اغیز د ښه والي په موخه له دغه پروګرام سره خپل ملاتړ څرګند کړ.



# په فاریاب ولایت کې د څه باندې ۳.۷ ملیونه افغانیو په ارزښت د څښاک د پاکو اوبو د تصفیې د دستګاه نصبولو کار روان دی

۱۶/ مرغومي/ ۱۳۹۸

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د څه باندې ۳.۷ ملیونه افغانیو په ارزښت د څښاک د پاکو اوبو د تصفیې د یوې دستګاه د نصبولو کار د فاریاب ولایت د اندخوي ولسوالۍ د خیرخواه پراختیایي شورا لخوا روان دی. د څښاک د پاکو اوبو د تصفیې د دغې دستګاه ظرفیت ۱۰۰۰ لیتره دي چې د ۲۰ او ۱۶ مترو مکعبه په ظرفیت د اوبو ۲ زېرمې لري. په نوموړې پروژه کې د اوبو د یوې څاه کیندل هم په پام کې دي او د بشپړېدو وروسته به د خیرخواه کلي ۲۵۰ کورنۍ او د نږدې کلیو اوسیدونکي د اوبو د تصفیې د یادې دستګاه له پاکو اوبو څخه ګټه پورته کړي.

# په غور ولایت کې د محافظوي دیوال جوړولو د پروژې کار مخ په بشپړېدو دی

۱۶ / مرغومي / ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د سیمه ییز پروګرام له لوري په غور ولایت کې د محافظوي دیوال د پروژې کار چې څه باندې ۳ میلیونه افغانۍ لګښت لري ۹۰ سلنه مخ ته تللی دی. د دغې پروژې په لړ کې چې د مالیې وزارت له لوري تمویل شوې د یاد ولایت د لعل او سرجنګل ولسوالۍ په قزل کلي کې د ۲۶۰ مترو په اوږدوالي استنادي دیوال جوړېږي. د یادې پروژې د تطبیق د بهیر پر مهال ۴۷٤۹ کاري ورځې رامنځته کیږي او له دې پروژې به د سیمې ۱۱۲۰ کسه ګټه پورته کړي. دغه دیوال به سلګونه جریبه کرنیزه ځمکه او کورونه د سیلابونو له زیان څخه خوندي کړي.





# په تخار کې د ۱۰۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د جوي شیخ ۱۷۵ متره پل جوړ شو

۱۸/ مرغومي/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د لارجوړونې د ملي پروګرام له لوري د تخار ولایت د مرکز تالقان اړوند د جوي شیخ کلي ۱۷۵ متره اوږد پل، ۰.۷۵ کیلومتره اتصالي سړک یې او د سړک دواړو غاړو ته ۶۰۰ متره استنادي دیوال د ۱۰۸ میلیونه افغانیو په لګښت جوړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شول.

د دې پروژې په ترڅ کې ۲٤ زره کاري ورځې رامنځ ته شوې وې او په بشپړتیا سره یې د نمک اب ولسوالۍ په ګډون جوي شیخ، قریه قلعه، چقل قشلاق پاین، چقل قشلاق بالا، قریه حاجي ها، شاه باي ها، سر اسیاب، بابه خان پهلوان او تکه تویمس کلي له مرکز تالقان سره وتړل شول.

د یادولو وړ ده چې ددې پروژې بشپړتیا په تالقان ښار کې د ترافیکي ګڼې ګوڼې د کمیدو لامل شوې. نږدې ۳٤ زره او ۸۰۰ کورنۍ په مستقیم او نا مستقیم ډول له دې پله ګټه پورته کوي.



# په بغلان کې له ۳۹ اړو کورنیو سره د څه باندې ٦٨ زره افغانیو په ارزښت د خوراکي توکو مرسته وشوه

۱۷/ مرغومي/ ۱۳۹۸

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام د غلې جاتو د بانک له لوري د بغلان ولایت د پلخمري ولسوالۍ دګاو سوارها کلي د پراختیایي شورا له خوا له ۳۹ اړو کورنیو سره د څه باندې ٦٨ زره افغانیو په ارزښت د خوراکي توکو مرسته وشوه.

دغه مرستې د ولسي تړون د ټولنیز ګډون لپاره د مالي وجهې پروګرام (SIG) له خوا چې د خلکو ونډه هم پکې وه، کلیوالو ته وړاندې شوي چې غوړي او اوړه پکې شامل وو. د بې روزګارۍ او موسمي لوږې په موده کې د کلیو اړو کسانو ته د غلې جاتو د بانکونو له لارې مرسته، دښتمنو خلکو لخوا د بیوزلو کسانو دلاسنیوي فرهنګ خپروي.

# په دایکنډي کې د ۱۱.۷ میلیونه افغانیو په ارزښت یو شمیر پرمختیایي پروژې بشپړې شوې

۱۷/ مرغومي/ ۱۳۹۸

د دایکنډي ولایت د کلیو بیا رغونې او پراختیا ریاست په همکارۍ او څار سره د CRS موسسې له خوا د ۱۱.۷ میلیونه افغانیو په ارزښت د یاد ولایت د سنګتخت او بندر ولسوالۍ په بیلابیلو کلیو کې د اوبو رسولو د ۱۸ شبکو، د دوو چینو د تحکیم او د څښاک د اوبو د ٦ څاګانو د ایستلو پروژې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې. د دې پروژو په پلي کیدا سره ٦۱۹٥ وګړو د څښاک پاکو او صحي اوبو ته لاس رسي پیدا کړ.





# د ننگرهارپه سره رود ولسوالۍ کې د ۲.۷ میلیونه افغانیو په ارزښت ۱۷٤ کورنیو ته د څښاک پاکې اوبه برابرې شوې

۱۷/ مرغومي/ ۱۳۹۸

د ننګرهار کلیو پرمختیا او بیارغونې ریاست له لوري د سره رود ولسوالۍ هجرت کلي کې د اوبو رسولو د یوې شبکې په جوړیدو سره ۱۷٤ کورنو ته د څښاک پاکې اوبه برابرې شوې.

د ننګرهار کلیو پرمختیا اوبیارغونې رییس انجنیر امان الله میاخیل وویل د اوبو رسولو دغه شبکه د ډاکار مرستندویه ټولنې لخوا د ۲.۷ میلونه افغانیو په لګښت جوړه شوې ده چې ۹۱ نلکۍ لري او ۱۷٤ کورنیو ته یې د څښاک پاکې اوبه برابرې کړي.

دغه شبکه د ۸۰ مترو په ژوروالي د اوبو څاه ، ۲۷ سولرې شیشې او د ۳۰ متره مکعبه په ظرفیت سره د اوبو ذخیره لري.

# د لغمان په قرغیو ولسوالۍ کې د ۲۰۰ متره استنادي دېوال د جوړلو چارې روانې دی

۱٦/ مرغومي/ ۱۳۹۸

د لغمان ولایت د کلیو د بیا رغونې او پراختیا ریاست په تخنیکي همکارۍ د خوراک نړیوال پروګرام په مالي مرسته د قرغیو ولسوالۍ اړوند د لوګرام په سیمه کې د ۲۰۰ متره استنادي دېوال د جوړولو چارې روانې دي.

د لغمان ولایت د کلیو بیارغونې او پراختیا رئیس وایي، چې د دې پروژې چارې به په شپږو میاشتو کې بشپړې شي او د سیمې سلګونه جریبه کرنیزه ځمکه او کورونه به د سیلابونو له ګواښه خوندي کړي.





# توزیع مواد خوراکی به ارزش ٦٨ هزار افغانی برای ۹۰ خانواده‌ی نیازمند در بغلان

۱۸ جدی ۱۳۹۸

برای ۹۰ خانواده‌ی نیازمند در قریه حسین خیل بالای پلخمری، مرکز ولایت بغلان از طریق بانک‌های غله جات برنامه‌ی ملی میثاق شهروندی وزارت احیا و انکشاف دهات به ارزش بیش از ٦٨ هزار افغانی مواد خوراکی توزیع شد.

این کمک‌ها توسط روستاییان و برنامه‌ی وجه مالی برای مشارکت اجتماعی (SIG) پیشکش شده و شامل آرد می‌باشد.

# په وردګو ولایت کې څه باندې ۳۰۰ کورنیو د څښاک اوبو ته لاس رسی پیدا کړ

۱۹/ مرغومي/ ۱۳۹۸

د کلیوبیارغونې او پراختیا وزارت د اوبو رسولو او روغتیا ساتنې پروګرام له لوري د میدان وردګو ولایت د سیداباد ولسوالۍ په بېلابیلو سیمو کې د څښاک د اوبو ۱۳ څاګانې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې. یادې ۱۳ څاګانې د سیداباد ولسوالۍ په زرنې، هفت اسیاب، اوتړي، پاینده خیلو، قاضي کلا، کده لک، دوراني تنګي، معین خېلو، خواجه کوټګي، صدوخېلو، جان خان او تره خېلو سیمو کې د لاسي بمبو په نصبولو سره په اساسي بڼه کیندل شوي. یادې څاګانې په داسې سیمو کې کیندل شوي، چې تر دې وړاندې یې خلکو د څښاک پاکو اوبو ته لاس رسي نه درلود په دې سره د یادو سیمو له ۳۰۰ ډېرو کورنیو د څښاک پاکو اوبو ته لاس رسي پیدا کړ.

